سیګار

شهادت

د مسلح خدمتونو کمیټې د څارنې او تحقیقاتو فرعی کمیټې
حضور ته
د متحده ایالتو د سنا مجلس

د افغانستان ملي دفاع او امنیتي ځواکونو د وړتیا او اغیزمنتیا ارزونه

د جان اف سوپکو څرګندونې
د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی سر پلټونکی
۱۲ فبروري ۲۰۱۶

محترم رييس هارتسلر، غړی سپير او د فرعي کميټي نور غړي

خوشحاله يم چې نن ورځ دلته د سيګار بشپړ شوي او روان کار چې د متحده ايالتو هڅې د افغانستان د ملي دفاع او امنيتي ځواکونو (ANDSF) د جوړلو، روزنه، سمبالول او تداوم لپاره ارزوي بحث کوم.
د ۲۰۰۸ کال راهيسې کله چې سيګار د کانګرس لخوا رامنځ ته شو، د ANDSF وړتيا او غيزمنتيا له عمده اندېښنو څخه يوه ده. د نن ورځې استماعيه غونډه په افغانستان کې د امريکا ماموريت لپاره تر ټولو اړوند موضوع باندې او په يو ډير مهم وخت کې واقع کيږي .

د امنيت راوستل نه يوازې د افغانستان دولت د بقا بلکه د بياجوړونې د هڅو لپاره هم ضروري دی. واضحه ده چې کانګرس هم همداسې فکر کوي: ۶۱٪ د هغو ۱۱۳ ميليارد ډالرو څخه چې امريکا بياجوړونې د بودیجې څخه د افغانستان لپاره تخصيص ورکړل شوی وو د افغانستان مداوم امنيتي ځواکونو لپاره په مصرف رسيدلي. تر نن ورځې، کانګرس د دې موخې لپاره له ۶۸ ميليارد ډالرو څخه زياته بودیجه تخصيص ورکړی[1].

نن زما شهادت د افغانستان امنيتي ځواکونو د جوړلو،تجهيز، روزنه او تحکيم لپاره د امريکا د هڅو په اړه د سيګار د پام وړ کارونه بنسټ باندې دی . د ۲۰۰۸ کال راهيسې، سيګار ۷۴ راپورونه په دې هکله خپاره کړي چې تخصيص ورکړل شوي بودیجه دANDSF په څه ډول کارول کيږي او دANDSF د جوړلو،تجهيز، روزنه او تحکيم د بهتره کولو لپاره يې ۱۶۷ سپارښتنې دفاع وزارت (DOD) ته ورکړي .

امنيت په زياتيدونکي ډول د خرابيدلو په حال کې

مورِ په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو او د پريکنده ملاتړ قومندان جان ايف کمبل سره موافق يو چې افغانستان د ځرخيدلو په زماني مقطع کې قرار لري . ځنګه چې جنرال کمبل وويلي "که مورِ سم محاسبوي شوی بدلونونه رامنځ ته نکړو، کيدای شي چې ۲۰۱۶ کال توپير ونلري او امکان يې شته د ۲۰۱۵ کال څخه لا خراب وي ". د ټولو ښېنو څخه داسې ښکاري چې امنيتي حالت مخ په خرابيدلو دی.[2] د ملي استخباراتو رييس جيمز کلپر په دې اونۍ کې يې شهادت ورکړو چې"استخباراتي ټولنه فکر کوي چې جنګونه په ۲۰۱۶ کې به د ۲۰۱۵ کې په مقايسه نور هم زور ونيسي او د امنيت د خرابيدلو لس کلنه لړۍ به روانه وساتي. " [3] د ملګرو ملتونو په وينا، افغانستان په ۲۰۱۵ کال کې تر ټولو کلونو ډير ملکي تلفات درلودل . ملګري ملتونه دا هم وايي چې ۲۰۱۵ کال ښايي د ۲۰۰۲ کال راهيسې په افغانستان کې تر ټولو خراب کال د جنګ له امله د بيځايه کيدلو لپاره وي . د سپتمبر په مياشت کې يو ولايتي پلازمينه ، کندز، د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۱ کالر راهيسې د طالبان لاس ته ورغی. د خبري راپورونو په وينا، د هلمند ولايت په دې اخيرو مياشتو کې د لاسه ورکولو ته نږدې شوی دی او د بغلان ولايت په خطر کې دی. افغانستان کې د امريکايي ځواکونو په وينا، تقريبا ۳۰ ٪ ولسوالۍ د دولت د مستقيمي اداري يا نفوذ څخه بهر دي.

خو، د کميټ له نظره به ګران وي چې په دقيق ډول د امنيت وضعيت تشريح شي . ډير ارقام چې د افغانستان د وضعيت د تشريح کولو لپاره کارول شوي په ظاهره کميټي مالومات دي، خو په اغلب ډول کيفي ارزوني نه دي او پوښتنې وړ تعريفونه يې کارولي.

---

[1] سيګار دري مياشتنی راپور د امريکا کانګرس ته, 2016/30/10, ضميمه B.

[2] د کانګرس دري مياشتني متونونه، د مسلح خدمتونو کميټې لخواستماعي د افغانستان په حالاتو باندې, 2016/2/2, (د امريکايی ځواکونو او د پريکنده ملاتړ قومندان جنرال جان ايف کمبل بيان) .

[3] د سنا د مسلح خدمتونو کميټه، بيان، جيمز آر کلپر، "د امريکا استخباراتو کميټې د نړيوال ګواښونو ارزونه ," 2016/9/2, مخ26.

څرنګه چې د نړیوالو او ستراتیژیکو څیړنو په مرکز کې ډاکټر انتوني کوردزمن اشاره کړې ده، "هیڅ داسې کومه لاره نشته چې د ۷۰٪ رقم په هکله [د دولت لخوا کنترول شوی مکه] یا حتي په دقیق ډول د افغانستان د نفوس شمیر یا موقعیت اندازه لګولو په اړه مطمین شو[4]".

د کندز لویدل یو شمیر کتونکي یې حیران کړل . خو، د ۲۰۱۴ کال جنوري میاشت کې، د بحري تحلیللاتو مرکز د دفاع وزارت لخوا یو تمویل شوی راپور خپور کړل چې وړاندوینه کړې وه چې طالبان به په ANDSF باندې خپل فشار روان وساتي، خپل نفوذ به هغو ځایونو کې زیات کړي ایتلافي ځواکونه خوشې کړي، کلیدي ښارونه محاصره کړي او په کابل او نورو ښارونو کې غټې حملې وکړي.[5] دا وړاندوینې په بدمرغې سره دیرې دقیقې ښکاري. د کندز حملې هم د افغانستان امنیتي ځواکونو په وړتیا کې د اندیښنې وړ خالیګاوې یې څرګندې کړې . افغان ځواکونو د امریکا هوایی ملاتړ په مرسته وکولای شول چې ښار له یاغیانو څخه پاک کړي و حقیقت دا دي چې د امریکا جنګي عملیاتونو څخه یواځې ۱۰ میاشتې وروسته، افغانان د کندز د بیرته نیولو لپاره یې د امریکایی ځواکونو مرستې ته اړتیا درلودل.

په سویلي افغانستان کې هلمند په ولایت کې د ANDSF ضعیف وضعیت یو بل د اندیښنې وړ پرمختګ دی . د د یسمبر میاشتې په اخیرو کې، د هلمند والي معاون ادعا وکړل چې طالب جنګیالي د دې ولایت د کنترول اخیستلو لپاره ځای په ځای شوي . بریتانوي ځواکونه ژر تر ژره د افغان اردو مرستې لپاره د سنګین مهمه ولسوالی ته ولیږدول شول کوم چې د راپورونو په بنسټ د یاغی جنګیالي لاس ته لویدلو لپاره نږدې ښکاریدل. علاوه په دې، تیره میاشت د امریکا هوایی ملاتړ ضروري وو تر څو د هلمندیو ښار پاک شي. په هلمند کې د مخ په زیاتیدونکو ستونزو په درک کولو سره، د پریکنده ملاتړ نوي قومندان جنرال جان ډبلیو نیلسن وویل، چې افغان امنیتي ځواکونو د ناکامو مشرانو پر لرې کولو پیل کړي، نوي قوتونه لیږي، او نورې زیرمې لکه وسلوالي الوتکې یې ولایت ته ورکړي. [7] او داسې راپورنه هم ورکړل شوي چې متحده ایالاتو یوکنډک سرتیري چې د غنډ په اندازه دي هلمند ته لیږي تر څو د افغان ځواکونو د هڅو ملاتړ وکړي.[8] د کندز تر پرزیدلو ورسته، په هلمند کې د ستونزو چټک خبرونه د راتلونکی لپاره ښه پیلامه نه ده .

په دې ژمي کې د طالبانو د زیاتیدونکي بریدو سره، له هغې مودې وروسته چې جنګ به په معمول ډول کرار وو، نوري دلې لکه القاعده د هند په شبه وچه کې (AQIS) د القاعدې یوه نسبتآ نوې څانګه چې په افغانستان، پاکستان او هند کې فعالیت کوي،داعش او د خراسان داعش هم خپل شتون ته په افغانستان کې وده ورکړې.[9] دتیرکال په اکتوبر کې، جنرال کمپبل وویلي چې یو څوورځنی عملیات په کندهار ولایت کې د القادې داسې یوه روځنیزه هډه چې ګمان کیږي تر ټولو غټه وه او له ۳۰ میل مربع څخه هم پراخ وو هدف وګرځول .

---

[4] د داکټر انتوني کوردزمن بریښنالیک چې په ۲۰۱۶/۳/۲ سیګار ته استول شوی

[5] د سمندري تحلیل لپاره مرکز "د افغان امنیتي ځواکونو د خپلواکې ارزوني لنډیز،" ۲۰۱۴/۲۴/۱ . ۱۹مخ

[6] د نیویارک ټایمز "پریټانیي سرتیري هلمند ته ځي چې د طالبانو مخه ونیسي،". ۱۵/۲۲/۱۲.

[7] د پالیسی په اړه وار له مخه پوښتنې د ایل ټي جي جان ډبلیو نیکولسن، د امریکا، د پریکنده ماموریت او قومندان لپاره نوماند قومندان، د امریکا قوتونه د افغانستان لپاره. ۲۰۱۶/۲۸/۱.

[8] نیویارک ټایمز"امریکا نور ځواکونه لیږي تر څو افغان ځواکونو سره، چې د طالبانو له لورې تر فشار لاندې دي، مرسته وکړی، ۱۶/۱۰/۲.

[9] حکومت، "بهرنی ترهګره اداره چې د (Khorasan-ISIL) خراسان لخوا ټاکل شوي; ۲۰۱۶/۱۴/۱: واشنګټن پوسټ "بنایي د القاعده تر ټولو لوی مرکز په افغانستان کې له منځه وړل شوي وي. " ۲۰۱۵/۳۰/۱۰ .

[10]جنوري په اتمه، د ولايتي شورا غړي خبرداری ورکړ، چې د خراسان د ډلې شتون د ننګرهار ولايت په پنځو ولسوالیو کې د دې ولايت د مرکز د راپرزيدو لامل کيدای شي، که چيرې د دوی مخنيوي ونه نيول شي [11]

د مخ په خرابيدو امنيتي حالت په اړه به زه تاسي ته د خپلې تجربې له مخې يوه بيلګه وړاندي کړم. هغه دا چې کله سيګار په ۲۰۰۹ کې د خپل دفتر لپاره چې په سفارت کې چې کابل کې دي، د کارکوونکو ګمارنې پيل کړي، زمونږ کارکوونکي د هېواد او ښار زياتره برخو ته تګ راتګ کولو، په خپله به يې موټر چلولو په کابل، هرات، مزارشريف به يې د افغانانو سره د کار په ځای کې ليدنې تر سره کولې، او له هوايي ډګر نه تر سفارت به په موټر کې تلل . اوس تقريبا اوه کاله وروسته، د سفارت کارکوونکي، په شمول د سيګار او د نظارت نورې اداری، د سفارت په دننه محوطه او د يو څو پريکنده ملاتړ د ماموريت اډو پورې محدود شوي دي، او، تقريبا د يو کال راهيسې د مخ په زياتيدونکي امنيتي اندېښنې له لاسه، مونږ بايد په چورلکو کې د کابل د هوايي ډګر څخه کار واخلو .

د امنيت نشتوالي د امريکا ډيرو مامورينو او ان ځنې افغانانو ته دا ستونزمنه کړي چې بهر لاړ شي تر څو هغه پروژې، چې د امريکا لخوا تمويليږي، سمې اداره او پلټنې يې وکړي .
سره ل دغو خنډونو، سيګار، د امريکا تر ټولو د نظارت لويه اداره په افغانستان کې، په دې توانيدلې ده، چې د امريکا د پروګرامونو د څارنې د چارو د اداري لپاره تر يو بريده له تخليقي لارو، لکه د محلي افغان کارکوونکو، مدنې ټولنو، او د امريکا د نظامي نه، چې کله موجود وي، کار اخلي . تر دې دمه د سيګار کارکړنې د امريکايی مالیه ورکوونکو لپاره ۲ ميليارد ډالره ژغورلې .
. سربيره پردې، مورږ غښتلی، او تعاوني کاري اړيکي له پريکنده ملاتړ او A-CSTC سره، چې د افغان امنيتي ځواکونو په اړه لومړنۍ مسوولیت لري، رامنځ ته کړي . په واقعيت سره A-CSTC د سيګار له ډيرو سپارښتنو سره موافقه کړې او هغه يې منلې . مورږ خپل کار ته له پريکنده ملاتړ او A-CSTC سره دوام ورکوو ترڅو په ډيرو ځايونو کې چارې بهتره کړو .

د اطمينان لپاره، متحد ايالتونه او ملګري هيوادونو د تيرو ۱۵ کالو په موده کې ډيرې لاس ته راوړنې يې درلودل . په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د پرځيدلو څخه وروسته، افغانستان هيڅ رسمي اردو يا پوليس ځواک نه درلودل . اوس هغه يو سهم سمبال اردو، هوايی ځواک او پوليس ځواک لري چې يو ديموکراتيک ټاکل شوي حکومت ته امر لاندې دي . په داسي حال کې چې دوی له يومصمم جنګ سره مخ دي، دوی جنګيږي او غټ تلفات ورکوي .

خو، که تازه پرمختګونه د هغه څه ويانډوی وي چې پېښيدونکي دي، ښايي مورږ د امريکا د ملي امنيت وړ مهاله موخو ته د رسيدلو لپاره سم پرمختګ ندی شوی کوم چې"القاعدې ته د امن ځای ورنکړو، طالبان بايد د دې وسه پيدا نکړي چې دولت راوپرځوي، او د افغانستان د امنيتي ځواکونو او دولت ظرفيت ته وده ورکړوتر څو د افغانستان د راتلونکي مسوولیت په غاړه واخلي[12].

مخکې له دې چې زه د ځيني هغه ستونزو په هکله خبرې وکړم چې سيګار د کلونو په ترڅ په ګوته کړي، زه فکر کوم چې خلګو ته يادونه وکړم چې افغانستان په نړۍ کې د کار کولو لپاره يو تر ټولو ډير ستونزمن ځای دی . مونږ د يو رښتوني خطر سره مخامخ يوو او زمونږ نظاميان او ملکي کارکوونکي او قراردادیان ډېرې لاسته راوړنې تر لاسه کړي، او دا به د امکان نه لرې وي، چې مونږ پرې ويار ونه کړو، او د دوی هڅې او لويې قربانۍ - و نه ستايوو.

---

[10]واشنګټن پوسټ " "ښايي د القاعده تر ټولو ستره روزنيز مرکز په افغانستان کې له منځه تللې وي،۲۰۱۵/۳۰/۱۰

[11] د ايډيپينډنټ بريتانيه، " د هلمند والي د طالبانو د ګواښ په اړه د فيسبوک له لارې جمهور رئيس ته خبرداری ورکوي،" ۲۰۱۵/۲۰/۱۲ .

[12] د سپڅلي مانۍ د ملي امنيت ستراتيژي. ۲۰۱۰/۵، مخ ۲۰

د ANDSF مخې ته عمده ننګونې

کاشکې زه نن تاسو ته وویلې شوی، چې د امریکا مرستې، چې د افغان امنیتي ځواکونو د جوړولو، تجهیز، روزنې، او د دوام لپاره د امریکا د مالیه ورکوونکو ته تل ښه ارزښت ولري . خو، سیګار ډېری داسې بیلګې موندلې دي چې کله هم د امریکا مرستې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره ورکړل شوي، یا خو ضایع شوي دي، یا هم په وړو هڅو نه دې لګیدلي، یا هم په هغو فعالیتونو لګول شوي چې هیڅ ګټه نه لري .

د سیګار د تکمیل شوي او روان کار په بنست، مونږ پنځه ستري ننګونې په ګوته کړې چې د افغان امنیتي ځواکونو د پرمختګ مخه یې نیولې:

1) د ځارنې محدود لید

2) د ځواکونو د زور په هکله د پوښتنې وړ ارقام

3) د وړتیا نامعتبره ارزونې

4) په بودیجه کې مرستې محدود ظرفیت

5) نامالوم اوږدمهاله تداوم

د ځارنې محدود لید

په میدان کې د کمو ځواکونو سره، د امریکا اردو د خپل توانایی ډیره برخه ANDSF د وړتیا او اغیزمنتیا په هکله د معتبره مالوماتونو د ټولولپاره له لاسه ورکړې ده . امریکا او ملګري هیوادونه تر ۱۳۰۰۰۰ عسکری ځواک یې د کلونو لپاره وساتل . اوس، هلته له ۱۳۰۰۰ څخه کم امریکایی او ایتلافی عسکر د قاطع ملاتړ په چوکاټ کې د روزنې، مشورې او مرستې ماموریت لپاره وجود لري . د سیګار په درې میاشتنې راپور کې، A-USFOR خبر ورکوي چې د امریکا سلاکاران ډېر لږ او یا هم هیڅ نیغ په نیغه اړیکه د افغان امنیتي ځواکونو د هغو واحدونو سره، چې د قول اردوګانو او د ساحوي پولیسو د مرکزونو د کچې څخه ښکته دي، نه لري.[۱۳] دغه حالت د هغه ډرماټیک حالت سره توپیر لري په کوم کې چې ایساف ځواکونو (چې د اوسني پریکنده ملاتړ پر ځای ول). دا ځکه چې ایتلافي سلاکاران په افغان امنیتي ځواکونو په واحدونو کې نغښتلي ول. دوی دا فرصت درلوده چې په ریښتوني بڼه سلا ورکړي او د دوی فعالیتونه او کړنې وګوري .

خو، دا چې د افغان ځواکونو وړتیاوي په لوړه کچه، یعنې په مرکزي دفترونو کې او د قول اردو په کچه یې ارزونې اوس هم ممکن دي، خو تر دې ښکته کچې، د بیلګې په توګه د لوا او یا د کنډک ارزونې د متحده امریکا او د ایتلافي ملګرو له وړتیا بهر دي .

دوی په اصل کې شتون نه لري تر څو داسې ارزونې وکړي . دا یوه جدي اندېښنه ده ځکه سیګار او د امریکا د نظارت اداري ته له ډېر پخوا راهیسې د افغان ځواکونو د ارزونو اعتبار او کروالی تر پوښتنې لاندې دي، په ټیره بیا په داسې وخت کې چې دغه ارزونې تر بل وخت نن زیاتې ټوټې دي .

دا چې د ایتلافي ځواکونو قوت ډېر کم شوی، د پریکنده ملاتړ ماموریت سلاکاران یوائې هغه ځانګړو مالوماتو باندې تکیه کوي چې د افغان وزارتونو له لوري دوی ته ورکول کیږي ترڅو د افغان امنیتي ځواکونو دعملیاتي چمتوالي او اغیزمنتیا وارزوي . تر یو بریده، دا په دې مانا ده لکه ګیدړه چې د چرګې کور څخه ساتنه کوي او په دې صورت کې، د چرګې کور هغه د امریکا د میلیاردو ډالرو مرستې دي چې افغان امنیتي ځواکونو لپاره تخصیص شوي دي .

---

[۱۳] A-USFOR د سیګار د مالوماتو د غوښتنې په ځواب کې. ۲۰۱۵/۴/۱۲

سیګار په خپله د وتلو اغېز یې د هغو مالوماتو په کمیت او کیفیت لیدلی چې مونږ یې تر لاسه کوو — په ځانګړی توګه د افغان امنیتي ځواکونو د وړتیا او اغیزمنتوب په هکله . مالومات لږ تفصیلات لري او د تحلیلي ارزښت یې هم لږ دی . د بیلګې په توګه، د سیګار د مالوماتو د یوې غوښتنې په ځواب کې، A-USFOR د افغان ځواکونو په اړه یوه عمومي ارزونه وړاندې کړه. دغه ارزونه کې د افغان ځواکونو د فعالیت په اړه یوه نابرابره، له زیاتو د لوړې کچې تکتیکي او عملیاتي په شاتګ چې د طالبانو د ستراتیژکو موخو ته نه د پریښودلو لپاره تري کار اخیستل شوي وه، نه وه . د افغان ځواکونو د وړتیاوو تشې په هوایي، استخارات، لوجستیک، ساتلو او عملیاتي پلان کولو، او مشرتابه کې شته . د امریکا د دفاع وزارت د ارزوني پر بنسټ افغان امنتي ځواکونو وړتیاوی د غیر مستقیم اور او د نژدی هوایي برید په برخه کې د ښه بشپړیدو په لور روان دي. خو د افغان ځواکونو ظرفیت د ځایونو په ساتلو کې وروسته له هغه چې دوی له دښمن څخه پاک کړي نا برابري دي: دوی په دفاعي حالت کې پاتې کیږي چې دا د دوی د چټک پرمختګ په هیواد کې محدوده و.[۱۴] زما اندښنه دا ده چې د متحده ایالاتو نظامیان په راتلونکی کې وځي او د دوی رول به یواځې د سلا ورکول وي د وزارتونو په کچه، نو زمونږ ظرفیت د هغه څه په پوهیدلو چې په سیمه کې رامنځ ته کیږي، نور هم محدود شي.

د کندز سقوط وروسته له ۱۴ کالو د متحده ایالاتو مرستې افغان امنیتي ځواکونو ته جدي ارزوني ته اړتیا لري چې د متحده ایالاتو پوځ یې وکړي . بیا هم سیګار د دې خبرې په پوهیدو ناآرامه شو چې، دسیګار د مالوماتو د غوښتنلیک ته د A-USFOR ځواب مطابق، پریګنده ملاتړ یو جامع کتنه له کتنې څخه جلا ونکړه چې افغان دولت د کندز د حادثې په اړه ترسره کړي وه . دا چې د ملیاردونو ډالرو مرستې اوس هم را رواني دي، دا ستونزمنه ده چې په دې پوه شو چې د پریکنده ملاتړ ماموریت تر اوسه پورې خپله خپلواکه بیا کتنه نه ده کړي تر څو زمونږ اوسنۍ "روزنه، سلا او مرسته" په پام کې اونیسي چې ایا زمونږ دغه هڅې اغېزمنې دي لکه څرنګه چې په کار ده، او یا د تغیر د راوستلو اړتیا شته .

ممکنه پوښتنې د کانګریس او د امریکا د پالیسي جوړونوکو لپاره شاملې دي :

- ایا د اوسني د امریکا پوځ په افغانستان کې کافي دی تر څو دا یقیني کړي چې د افغان امنیتي ځواکونه د دې جوګه دي، چې هغه خطر چې زمونږ د پام وړ پانګونو ته شته، کولای شي چې کم یې کړي؟
- ترکومه بریده د امریکا پوځ کولای شي چې په هغو مالوماتو باور وکړي چې د افغان امنیتي وزارتونو څخه د افغان امنیتي ځواکونو په اړه دوی ته ورکول کیږي څومره کوټلي او کټ مټوالی لري؟

د ځواکونو د زور په هکله د پوښتنې وړ شمیر

سیګار د افغان ځواکونو اصلي زور ته له نږدې کتنه کړي . د کلونو راهیسې د افغان امنیتي ځواکونو د منظور شوي سرتیرو او پولیسو شمېر ۳۵۲۰۰۰ دی. [۱۵]په هر صورت د سیګار کړنه ښیي چې د افغان امنیتي ځواکونو اصلي منظور شوي زور ۳۵۲۰۰۰ ته رسېدلي، خو په پوره توګه نه دي په کار اچول شوي . په حقیقت کې زمونږ کړنې ښیي چې نه خو د امریکا متحده ایالات او نه هم افغان ملګري په دې رښتیا پوهیږي چې څومره سرتیري او پولیس په دندو بوخت دي، یا، د همدغه استدلال له مخې، د دوی (افغان ځواکونو) د رښتوني عملیاتي وړتیاوو د ماهیت څخه .

د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس د پرسونلو په اړه معتبره مالومات د متحده ایالتو او افغان دولت، د پریکنده ملاتړ ماموریت، او نورو مرسته کوونکو هېوادونو ته چې افغان امنیتي ځواکونه ته ملاتړ ورکوي خورا مهم دی .

---

[۱۴] A-USFOR د سیګار د مالوماتو د غوښتنې په ځواب کې. ۲۰۱۵/۴/۱۲

[۱۵] د امریکا د دفاع وزارت، د افغانستان د امنیت او ثبات د پرمختګ په اړه راپور. ۲۰۱۲/۱۲، ۵۶ مخ د A-USFOR ځواب د سیګار غوښتنې ته

هر مسلکي پوځ، امنيتي قوت، او پوليس هره ورځ په دې پيلوي وي چې دا په ګوته کړي چې ځومره پرسونل په خپلو دندو کې حاضر دي او څه وړتياووي، لکه روزل شوي پلي سرتيري، ګزمه کوونکي، طبي عمله او ميخاينکان، لري دغه مالومات له قومندانانو سره مرسته کوي تر څو د دغو قوتونو عملياتي وړتياوي جوتې کړي .

په هغه بيانيه کې چې د پوځي وسلوالو قوتونو د خدمتونو کميټې پر وړاندې تيره اونۍ وړاندې کړه، جنرال کمبيل وويل، چې تقريبا ۷۰ سلنه ستونزې چې افغان امنيتي خواکونه ورسره مخامخ دي، د کمزورۍ مشرتابه له امله دي . لاکين ان تر دې چې د نړۍ ترټولو غوره پوځي مشران هم نه شي کولای چې خپلې دندې په ښه توګه تر سره کړی تر څو چې دا ورته جوته نه وي چې هره ورځ ځومره پرسونل لري، او له کومو مهارتونو سره، ځومره په دندو بوخت دي .

په ۲۰۰۶ کې مخکې تر دې چې سيګار رامنځ ته شي، د امريکا دفاع وزارت او د عمومي پلټونکی د د پوليسو په ليکو کې د لوړې شميرې خبرداری ورکړي وه . د A-CSTC لخوا ورستنۍ هڅې چې د پوليسو د پرسونلو فزيکي شمېرنه د هغوی د معاشاتو له جدولونو نه د کورنيو چارو په وزارت کې وکړه. په دې وړه توانيده چې ۲۰ سلنه د افغان پوليسو او ۱۳ سلنه د سرحدي پوليسو حاضري تاييد کړي[۱۶].

په ۲۰۰۹ کې د افغانستان دولت په ګوته کړه چې د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام او د امريکا قراردادونو په دې وړه توانيدل، چې د هغه ۲۹۴۰۰ پوليسو او افغان ملي پوليسو د پرسونلو — د شتون او فعال حالت په هکله مالومات تر لاسه کړي، کوم چې د د دواړو ډلو د يو پر دريمي برخې نه جوړ ول. لامل يې د افغان ملي پوليسو د قومندانانو نه همکار وه. په هغه وخت کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په يوه ليک کې ويلی ول، چې د پوليسو مشران د دې لپاره د پوليسو د شمېر لوړوالی ښي ترڅو د خيالي پوليسو په نوم پيسې تر لاسه کړي[۱۸].

په ۲۰۱۱ د افغان ملي پوليسو پرسونل د پلټنې پر مهال، سيګار په دې وړه توانيده چې د افغان ملي پوليسو د پرسونل کره شمېره ومومي . زمږږ په راپور کې مونږ دا په ګوته کړل چې د قدر او پرسونل له بېلا بېلو منبعو د افغان ملي پوليسو پرسونل له ۱۱۱۷۷۴ نه تر ۱۲۵۲۱۸ پوري دي. د يوې فرقې په اندازه پرسونل چې تعداد يې ۱۳۴۴۴ ته رسېږي، توپير شته[۱۹].

له هغه راهيسې، چې د امريکا د دفاع وزارت او A-CSTC نه سيګار د افغان امنيتي ځواکونو د شمېر په اړه مالوماتو غوښتي وه، نورې پوښتنې راپورته کړي دي . د څو دري مياشتنيو په اوږدو کې، ايساف سيګار ته د افغان امنتي ځواکونو د پرسونل په اړه وويل، چې په دغو پرسونلو کې کله نا کله ملکي کسان ور ګډ وي او کله نه . برسيره پر دي، په هرو دريو مياشتو کې افغان ملي اردو په پرسونلو کې د غټو بدلونو د مرکزونو په کچه، او همدارنګه توپير په مالوماتو کې، نورې اندېښنې را ولاړې کړي دي .

د سيګار د جنوري ۲۰۱۵ پلټنې ښي چې له ۳۰۰ ميلونو زيات ډالر، چې د امريکا له کلنۍ مرستې څخه دي، د افغان ملي پوليسو د معاشاتو لپاره ورکړل شوي، د هغو مالوماتو پر بنسټ دي چې يواځې په قسمي ډول تاييد او يا له اسنادو سره سر ورکړي دي . په بله مانا، يو ځل بيا دا جوته نه شوه چې د پرسونلو معاشاتو مالومات کره ول . .

---

[۱۶] سيګار, *افغان ملي پوليس:* له ۳۰۰ زيات کلنی ډالر د امريکا له مرستې چې د معاشاتو لپاره دي، په قسمي ډول يا تاييد شوي يا سر ورکړل شوي. د پلټنې راپور ۱۵-۲۶- ای ار، ۲۰۱۵/۱

[۱۷] افغانستان دولت د افغانستان لپاره د امريکا امنتي پروګرامونه، چې د کورنيو چارو په وزارت او په ملي پوليسو کې نور اصلاحات راولي، د پوځي پرسونلو د کمښت او د افغانانو د نه همکارۍ سره مخاخم شوي ۲۰۰۹/۳

[۱۸] د افغانستان دولت د افغانستان لپاره د امريکا امنتي پروګرامونه، چې د کورنيو چارو په وزارت او په ملي پوليسو کې نور اصلاحات راولي، د پوځي پرسونلو د کمښت او د افغانانو د نه همکارۍ سره مخاخم شوي ۲۰۰۹/۳ .

[۱۹] سيګار، سره لدې چې د کورنيو چارو وزارت د پرسونل په سيستم کې ښوالی راغلی، خو د دی اړتيا شته چې د کورنيو چارو د وزارت د معاشاتو او بشري قوت تفکيک او وشي. د پلټنې راپور ۱۱-۱۱۰ ای ار ۲۰۱۱/۲۵/۴.

په حقیقت کې، سیګار موندلي چې تقریبا ۲۰ سلنه افغان پولیس پرسونل له دې خطر سره مخ وو چې خپل پوره معاشونه تر لاسه نه کړي. د دې له کبله چې دوی ته معاشونه د کورنیو چارو وزارت " د اعتماد وړ کسانو،" له لورې نغوړ ورکول کیږي چې دا پروسه نه خو اسناد لري او نه هم حساب کتاب[۲۰].

په اپریل ۲۰۱۵ کې سیګار دا ومندل چې تر اوسه هم د دې ضمانت نشته چې د افغان ملي اردو د پرسونلو معاشاتو مالومات، — چې د دفاع وزارت له لورې تر څار لاندې دي، —هیڅ کره نه دي.[۲۱]نو د دې پر ځای A-CSTC او بیا ورسته د پریکنده ملاتړ ماموریت د معاشاتو په اړه د مالوماتو د راټولولو لپاره په دفاع وزارت او په افغان ملي پولیسو تکیه وکړه. په هر صورت د افغان ملي سرتیرو د حاضرۍ په اړه د مالوماتو د راټولولو پروسه چې د واحد په کچه ترسره کیږي، چې د دې پر بنسټ تري د افغان ملي سرتیرو او د معاشاتو لپاره کار اخیستل کیږي، تر ډېره بریده تر کمزورۍ څارنې او کنټرول لاندې وه، او دغه کار د افغان ملي سترتیرو په نورو ځای یوشان نه پلي کې ده. د دې لپاره هیڅ کوم شرطونه نه شته چې د افغان ملي سرتیرو د څارنې افسران د حاضرۍ په ټیټه کچه تایید کړي . امریکا او ایتلافي افسران د حاضرۍ اخیستلو د پروسې پر مهال موجود نه وي، د قوماندې افسرانو سیګار ته ویلي چې دوی محدوده اغیزه او نفوس پره دغه پروسه لري .

یواځې د کنټرول پروسه د افغان ملي سرتیرو د حاضرۍ په سیستم کې چې کولای شي کره شمېرنه پرې وشي، هغه ورځني حاضري اخیستل دي چې هر سرتیرۍ باید هره ورځ حاضرۍ لاسلیک کړي. چې دا کار د افغان ملي سرتیرو په نور ځایو کې یو شان نه کارول کیږي . د بلیګې په توګه، افسرانو جدول کارو خو هغه پرسونل چې لیست کې ول نه یې کاروه . د پرسونلو د حاضرۍ د تایید نشتوالی په دې دلالت کوي چې ګواکې قومندان دې په کره توګه د پرسونلو د حاضرۍ راپور ورکړي . دغه کمزورۍ د دې لامل کیږي چې د افغان ملي اردو مالوماتو د راټولولو پروسه کې د هغو پروسونلو د کار راپور هم ورکول کیږي چې دوی ته د هغو ورځو معاش ورکړل شي چې په کومو ورځو کې دوی کار نه وي کړي، یا ورسره یا هم پرته د څارنې د پرسونل[۲۲].

له بده مرغه، دا ماته حیرانوونکی نه وه، چې د اسوسیټډ پریس تیره میاشت د هلمند په جګړه ځپلي ولایت کې د افغان ځواکونو د اصلي شمیر په اړه دا تور پورې کړي وه، چې هغه څه چې په حاضري کې دي، په اصل کې ترهغه هم لږ دی چې رسمي شمېرنه یې ښي. دا ځکه چې حاضرياني له خیالي سرتیرو او افسرانو څخه ډکې وي. د ای پي .[۲۳] د راپور په حواله د هلمند د ولاتیې شورا غړي دوی ته راپور ورکړي وه چې تقریبا ۴۰ سلنه امنیتي پرسونل شتون نه لري. د هلمند د پخوانۍ د امنیت قومندان وایي چې اصلي شمېر په هلمند کې "نه ته نږدې" ۳۱۰۰۰ پولیس ثبت ول. تر ټولو ستونزمن دا وه چې د ای پی راپور د یو افغان افسر د اټکل مطابق د افغان امنیتي ځواکونو شمېر تقریبا ۱۲۰۰۰۰ ښودل شوی نیم له هغه څه چې ۳۲۲۶۳۸ ګمار شوي پرسونل[۲۴].

په داسي حال کې چې زه نه شم کولای چې دا ادعاوي تایید کړم او زه یواځې کولای شم چې دا ستونزمنه وښیم. —سیګار له مودې راهیسې د افغان امنیتي ځواکونو د اصلي شمېر د قوت په اړه پوښتنې لري. د خیالي سرتیرو د ربنتیني شتون په افغان امنیتي ځواکونو کې د دوی او د دولت چمتوالي، ادراک او باور ته زیان رسوي.

ممکنه پوښتنې د کانګریس او د امریکا د پالیسي جوړونکو لپاره شاملي دي :

- ایا امریکا افغان امنیتي ځواکونو د کره شمېر په اړه مالومات لري؟

---

[۲۰]سیګار, *افغان ملي پولیس:* له ۳۰۰ زیات کلنی ډالر د امریکا له مرستې چې د معاشاتو لپاره دي، په قسمي ډول یا تایید شوي یا سر ورکړل شوي. د پلټنې راپور ۱۵-۲۶- ای ار، ۲۰۱۵/۱

[۲۱]سیګار, *افغان ملي اردو:* د پرسونلو د معاش د مالوماتو د لږ څارنې له امله په میلونونو ډالر تر خطر لاندې، د پلټنې راپور ۱۵-۵۴ – ای ار ۲۰۱۵/۴

[۲۲]سیګار پلټنې ۱۴-۵۴

[۲۳]اسوسیټ پریس, "افغان ځواکونه د خیالي سرتیرو د موجودیت له کبله هلیځلی کوی ," 2016/10/1.

[۲۴] اسوسیټ پریس, "افغان ځواکونه د خیالي سرتیرو د موجودیت له کبله هلیځلی کوی ," 2016/10/1.

- آیا د امریکا اردو د دې توانایي لري چې د اړتیا وړ مالومات ټول اوتاییدِ کړي چې اطمینان حاصل شي چې په ANDSF کې د پرسونل تعداد دقیق دی او هغه پیسې چې مونږ یې د دوی په معاشاتو اواعاشه باندې مصرف کوو د ضایع کیدلو او درغلیو خطر سره مخ ندي؟

<u>د وړتیا نامعتبره ارزونې</u>

په داسې حال کې چې د ANDSF د پرسونل تعداد د اهمیت وړ دی، سیګار د ANDSF د وړتیا او اغیزمنتیا د نورو اړخونو په هکله هم اندیښنه لري کوم چې هیڅکله هم ډیر د اعتماد وړ نده اوسیدلی او د خرابیدلو په حال کې دی. د پریکنده ملاتړ څخه وړاندې اداره، ایساف، د ANDSF د وړتیا ارزونې لپاره د قطعې په سطح په داسې ساحاتو کې لکه رهبري، قوماندې او اکنترول، د تجهیزاتو سطح اود عسکرو پریښودلو لپاره بیلابیل طریقې یې وکارولې. دغه ارزونې امریکایی او افغان خواوو ته په شمول د امریکایی مالیه ورکونکو چې د افغان عسکر او پولیسو د استخدام، روزنه، اعاشه، تجهیز اوتدارکاتو پیسې ورکوي د دغو ځواکونو د وضعیت او د ۶۸ ملیونه ډالره پانګې د اغیزمنتیا په هکله راپور برابر وي. خو، د کلونو په تیریدلو سره، د هغه تفصیلاتو اندازه چې په دې ارزونو کې څرګندیدل کمه شوې ده.

د مثال په ډول، په ۲۰۱۰ کال کې سیګارد تفتیش یو راپور خپور کړ چې په کې هغه لوړې درجې قطعات - هغه قطعات چې په خپلواک ډول یې فعالیت کولای شوی - د دې توانایي یې ندرلودل چې خپلې لاسته راوړندې وساتي. هغه سیستم چې دANDSF درجې ورکولو لپاره کارولی شوی وو د دوی د عملیاتي وړتیا درجه یې له اصلي اندازې پورته ښودلی وو او د ANDSF د بهتره کولو لپاره د زیان باعث وګرځیدل. د سیګار مفتشینو د اردو او پولیس قطعاتو د وړتیا په سطحو بیرته شاتګ او ضعف وموندل چې وجه یې جزآ دا وو چې کله یو ځلې یوه قطعه لوړې درجې ته ورسیدل، ایتلافي ځواکونو خپلې مرستې لکه د ځواکونو محافظه، اعاشه او تخصص ودرول.

د سیګار د تفتیش راپور څخه وروسته، د ایساف ګډه قوماندانې د درجه ورکولو سیستم یې بدل کړل. د تیر سیستم درجه بندي وه "پوره توان ،" خو د نوي سیستم د سر درجه بندي د وخت په تیریدو سره " د سالکارانو سره اغیزمن " نه " د سالکارانو سره خپلواک" [۲۶]له بده مرغه هر نوی سیستم داسې برېښیده چې له مخکې په پرتله به ټیټ وه تر څو د افغان واحدونو بریالتوب پرې په ګوته کړو.

د ۲۰۱۲ کال په جولای کې، د افغانستان د حساب ورکونې اداره اندیښنې څرګندې کړې چې د تر ټولو لوړې سطحې د نوم بدلول له "خپلواک" څخه "خپلواک له سلاکارانو سره" ته تر یو حده د افغانستان مسلح ځواکونو د قطعاتو ته د لوړې درجې د ورکولوپه زیاتوالي کې سهم لري - او ښکارندوی ده چې د خپلواکي لاس ته راوړل سخته ثابت شو په داسې حال کې چې خپلواکي خو له *سلاکارانو سره* یو د امکان وړ هدف وو[۲۷].

په فبروري ۲۰۱۴ کې چې سیګار یو ځل بیا هغه سیستم، چې د افغان ملي ځواکونو وړتیا د درجه بندي لپاره د ارزونې د آلې په توګه تري کار اخیستلو، تر پلټنې لاندې ونیو، دا یې وموندل چې دغه سیستم یوشان نه وه کارول شوي او هم ګټور نه وه. په هغه وخت کې، سیګار وموندل چې د درجه بندی سیستم معیاری کړنلاري لپاره کوم روښانه لارښود، چې اړین تفصیل په کې وي، تر څو څرنګه د یو ټیم درجه بندی ملاتړ وکړي او یا یې څرنګه د یو ټیم ذهني شخصي ارزونه باید ولري. .

---

[۲۵]سیګار، عملونه کول په کار دي ترڅو د افغان امنیتي ځواکونو ارزونو اعتبار بنه کړي. د سیګار پلټنې راپور ۱۰-۱۱ ای ار، ۲۰۱۰/۲۹/۶

[۲۶]سیګار، افغان امنیتي ځواکونه: عملونه کول په کار دي تر څو د وړتیا د دوام لپاره د ارزونې هڅې پیاوړې کړي. د پلټنې راپور ۱۴-۳۳-ای ار، ۲۰۱۴/۲

[۲۷]د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکولو دفتر، د افغانستان امنیت دوامداره ننګونې شاید د افغان امنیتي ځواکونو پرمختګ او دوام اغیزمن کړي. GAO-12-951, 7/24/2012.

دا ناڅرګنده لارښوني د دې لامل شوي چې د مالوماتو په کميت او کيفيت کې توپير او هم د افغان ملي ځواکونو د ظرفيت په , جلبول، روزنه، او تجهيز په اړه په ارزونو کې نادولتوب رامنځ ته کړي[۲۸] .

بله بيلګه يې د افغانستان د بشري منابعو مالوماتي تنظيم سيستم دی. د افغانستان د بشري منابعو مالوماتي تنظيم سيستم ډيټا بيس(مالوماتي سرچينه) بايد د يو تم هټۍ په توګه وکارول شي. A-CSTC سيګار ته په وار وار ويلي چې ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د مالوماتو ډيټابيس ته د ورداخلولو ۹۰ سلنه کار تر سره شوی دی. د دې لپاره چې د جلب او جذب او دندې د پريښودلو کچه مالومه شي، سيګار د امريکا د دفاع وزارت نه هغه راپورنه، چې د افغانستان د بشري منابعو مالوماتي تنظيم سيستم د ولايت او د افغان ملي ځواکونو د زده کړي کچې په کې دي او هغوی چې دندې پريښودي، غوښتي دي.
دغه دواړه برخې د افغانستان د بشري منابعو مالوماتي تنظيم سيستم په ډيټابيس کې شته دي. مونږ غوښتل چې دا مالومه کړو چې ايا دا مالومات مونږ سره مرسته کولای شي ترڅو ځرنګه خلک د افغان امنيتي ځواکونو په ليکو کې ورګډيږي او يا يې هم پريږدي، کله چې مونږ دا غوښتنه وکړه، د امريکا د دفاع وزارت وويلي چې غوښتل شوي مالومات د لاسرسي وړ ندي. په دې صورت کې، داسې بريښي چې دامريکا د دفاع وزارت په افغانستان کې د بشري منابعو مالوماتي تنظيم سيستم د ډيټابيس په پوره کارولو کې پاتې راغلي.

ځرنګه چې مونږ په هلمند ولايت او نورو سيمو کې ګورو چيرې، چې افغان امنيتي ځواکونه د امنيت په ټينګولو بوخت دي، دا مونږ لپاره اړينه ده چې مونږ دواړه امريکا او افغان ملګري بايد د افغان امنيتي ځواکونو د وړتياوو نه خبر وو. نو له همدې کبله وروستۍ مطبوعاتي خبرمخ چې د پريکنده ملاتړ د اډيکو مشر مرستيال جنرال ويلسن شنوفنر له لورې خپره شوې، ډېره د اندېښنې وړ ده. د جنورۍ په ۱۹، هغه خبريالانو ته وويل چې يوله سترو هڅو به په ژمې کې رامنځ ته کيږي، "هغه به د افغان ملي اردو د ۲۱۵ قولې اردو بيا ودانول وي." ۲۱۵ قول اردو د هلمند او نيمروز ولايتونو، چيرې چې سختې جګړې پيښيږي، د امنيت د ټينګولو لپاره ځانګړي شوي ده.

زيات ستونزمنه د نوموړي هغه خبرپاڼه چې د ۲۱۵ قول اردو يو له هغو قول اردو څخه ده چيرې چې مونږ دايمي (روزنه، سلا ورکول، او د ماموريت سره مرسته کول دی) نه لرو، خو دا هم يو له هغو ځايو څخه دی چيرې چې مونږ کشفي سلا ورکوو. [۲۹]"د جنرال شنوفر په په وينا، کشفي سلا ورکول د پريکنده ملاتړ د ټيمونو - "سيمو ته ليږدول دي چيرې چې دوی د څو ورځو او يو څو اونيو لپاره هلته پاتې کيږي تر څو د افغان امنتي ځواکونو قول اردو ته سيمه کې سلا ورکړي. [۳۰]د متحده ايالاتو د نوو قوتونو هلمند ولايت ته په رارسېدلو سره به دا ستونزه د اوس لپاره احل کړي، خو د کشفي سلا ورکونې پايلې دومره مثبتې نه دي.

ممکنه پوښتنې د کانګريس او د امريکا د پاليسي جوړونوکو لپاره شاملي دي :

- ايا امريکا د افغان ملي امنتي ځواکونو په اړه اخڅګنده، کره او ګټور پوهاوي لري. مالومات.
- ايا امريکا کولای شي چې د داسې د ارزوني آلي جوړولی شي چې هغه به کره او ګټوري وي.؟

---

[۲۸]سيګار، افغان امنيتي ځواکونه: عملونه کول په کار دي تر څو د ورتيا د دوام لپاره د ارزوني هڅې پياوړي کړي. د پلټنې راپور ۱۴-۳۳-ای ار، ۲۰۱۴/۲

[۲۹]د دفاع وزارت, دافغانستان څخه د ليکانفرانس له لارې د جنرال شروفنر مطبوعاتي خبرې، 2016/19/1. .

[۳۰] د دفاع وزارت, دافغانستان څخه د ليکانفرانس له لارې د جنرال شروفنر مطبوعاتي خبرې، 2016/19/1. .

په بودیجه کې مرستې محدود ظرفیت

سګار له ډېرې مودې راهیسې د امریکا د مرستې په اړه، چې افغان ملي ځواکونو ته د بودیجې په ډول په مستقیمه ډول ورکول کیږي (چې دې ته دوه اړخیزه له حکوت څخه حکومت ته مرسته ورکول دی) هغه مرستې چې د څو هېوادونو له لورې د افغانستان حکومت ته ورکول کیږي، خپله اندېښنه ښودلې ده. د سترو څو مرسته کوونکو هیوادونو مرستې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د افغانستان د عامه نظم د مرستې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له لورې اداره کیږي چې د پولیسو معاشونه ورکوي. له ۲۰۰۲ راهیسې، امریکا ۵.۱ میلیارده ډالره لوفته ته ورکړې.

له ۲۰۱۰ راهیسې، امریکا په ورو ورو بودیجوي مرستې دفاع او د کورنیو چارو وزارتونو ته د ورزیاتولو په حال کې ده. په ۲۰۱۵ کې، امریکا تقریبا افغان ملي ځواکونو سره ۲ میلیارده ډالرو بودیجوي مرسته کړې. د بودیجوي مرستې موخه دا ده تر څو افغانان په خپله خوښه خپله بودیجه د ظرفیت د لوړوالي لپاره وکاروي. په هر صورت، دغه د بودیجوي مرستې ژمنې افغان امن یتي ځواکونو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول له څو اړخیزو مرستو له لارې، د دې لامل شوي چې امریکا محدود کنټرول او څار پر دغو مرستو ولري.

د امریکا د دفاع وزارت د ساتنې د بیا کتنې پر مهال ، سیګار یو څو کمزورتیاوي په هغه بودیجوي مرستو کې ومونډلې، چې د مالیې وزارت له لارې افغان امنیتي ځواکونو ته ورکړل شوي وي. د دې ویره یې زیاته کړې وه چې د افغانستان مرکزي بانک به یې ضایع کړي، درغلی شوي او ناسمه ګټه تري پورته شوي. په نویمبر ۲۰۱۳ کې د سیګار د بیاکتنې پر مهال، A-CSTC په خپله پروسه کې روزونکو او پریکړې کوونکو ته د هر وزارت د مالي چارو د اداري ظرفیت په هکله مالومات نه وه ورکړي تر څو هغوی په دې وتوانیږي چې دوی هغه خطرونه چې د کمزوري ظرفیت سره تړلی وي، په ګوته کړي.

A-CSTC په وینا، چې کله مرستې د افغان حکومت بانکي حساب ته وردننه شي، بیا یې څارنه له ننګونو ډکه وي . A-CSTC مالومات د افغانستان د مالي مالوماتو د تنظیم سیستم د راپور پر بنسټ د منظور شوي بودیجوي مرستو د پریکړه لیکونوسره مقایسه کوي . A-CSTC د پلټنو له لارې ناسم مصرف هم په نښه کوي تر څو هغه ساحې لکه تیل او معاش چې تر ټولو د لوړ خطر ساحې دي تر څار لاندې ونیسي. د دغو هڅو د پایلو پر بنسټ، A-CSTC دهغه پروسې ځخه کار اخلي چې له مخې یې د وزاروتونو مالي مرستې ترهغه لا ځان سره ساتي تر څو دغه وزارتونه وښیي چې دوی هغه کمرزوي چې ورپه ګوته شوي وي، سمه کړي دي. خو سیګار څو داسې پیښې موندلې چې د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت د دې وړتیا نه درلوده ترڅو بودیجوي مرستې سمې سمبال کړي.

په جنوري ۲۰۱۳ کې، سیګار پلټنو د A-CSTC په اړه ومونډل چې د تیلو، روغنیات د افغان ملي اردو د موټرو لپاره، جنراتورنو او د انرژۍ د ماشینونو د اخیستلو او ورکړې لپاره د حساب ورکوني پروسه نه درلوده . د حساب ورکوني د پروسې نشتوالی خطر زیات کړو چېامریکا مالي مرستې او تیل به غلا شي.
. په مشخص ډول، سیګار ومونډل چې د A-CSTC هغه د روغنیاتو د خریداري اسنادونه چې د ۲۰۱۰ کال مارچ ځخه تر ۲۰۱۱ کال فبروري پورې یې پیسې یې ورکول شوي ورک وو، له ۲۰۱۱ کال مارچ تر ۲۰۱۲ کال مارچ پورې د روغنیاتو د خریداري په اړه مالومات غیر دقیق او نامکمل وو او A-CSTC د ضایعه شوي یا ورک شوي روغنیاتو حساب نشوای ورکولای. په برسیره، د A-CSTC پروسې د قیمتونو د تصویب، فرمایش ورکول، رسید، رسول او د روغنیاتو پیسې ورکول له جدي زیانمنني سره مخ وو. د بیلګې په ډول، A-CSTC پرته له دې چې د پلورونکو اسناد وګوري چې دوې پوره او د سم کیفیت روغنیات رسولي یا نه د پیسې یې ورکولې. .

برسیره په دي، د تیلو فرمایشات د اړتیا وړ مصرف په بنسټ وو او مجوزه پروسه يې نه طی کول.[۳۱] دغه تفتش د سیګار د پلټونکو کار څخه وروسته وو چې موندلي يې وه چې دA-CSTC داسنادونو نشتوالي په دې معنا دی چې د امریکا دولت نشوای کولای چې د افغانستان اردو لپاره د ۲۰۱ میلیون ډالرو په ارزښت د تیلو د خریداري حساب ورکړي[۳۱].

د دغو ستونزو با وجود، A-CSTC د افغان ملي اردو د تیلو مسوولیت يې دفاع وزارت ته سپارلی ده. له بده مرغه، د سیګار کار د دفاع وزارت د هغې بودجې مرستو د مدیریت او حساب ورکولو توانایی په اړه نوې ستونزې موندلي چې د روغنیاتو پیسې ځنې ورکول کیږي. په ۲۰۱۵ کال کې، د سیګار پلټنې د تقریباً ۱ میلیارد ډالرو په ارزښت د دفاع وزارت د روغنیاتو په یو څو کلن قرارداد کې يې درغلي څرګند کړل.

دغه قضیه په ځانګړي ډول مهمه ده ځکه دا ښکاروي چې څومره ښې پایلې لاس ته راځي کله سیګار، د امریکا اردو او د افغانستان دولت د یو ګډ هدف د لاسته راولو لپاره همګاري کوي.
د قضیې حل وروسته رامنځ ته شو چې سیګار او A-CSTC د ۱فبروري ۲۰۱۵ باندې ولسمشر اشرف غني ته مالومات ورکړل چې څلور قراردادیان د قیمت په تعین کول، غلط داوطلبي او د دفاع وزارت د تیلو د قرارداد د ورکولو څخه وړاندې د رشوت په ورکولو کې لاس لري او په دې ډول په مجرمانه ډول يې بیه د افغان دولت او امریکایی مالیه ورکوونکو لپاره د ۲۱۴ میلیونو په ارزښت زیات کړی.

د مالوماتو څخه وروسته، ولسمشر غني د دفاع د وزارت هغه کارکوونکي چې د تیلو قرارداد په ورکولو کې يې لاس درلودل تعلیق کړل، قرارداد يې لغو کړل، قراردیانو ته يې د ممکن بندیزونو خبرداری ورکړل او یو خپلواک افغان پلټونکی يې وټاکل ترڅو د دفاع وزارت د تیلو د قرارداد د ورکولو موضوع او همدا رنګه د دفاع وزارت ۱۱ نور قراردادونه د نور موادو لپاره وڅیړي. داسې سریع او پریکنده عمل کول په داسې یو وطن کې چې په معمول ډول د تر ټولو مفسد درجه ورکول کیږي یو قوي سیګنال استوي.

او بلاخره، د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې سیګار د دفاع وزارت ته یو د خبرداري مکتوب ولیکل چې د افغانستان مسلح ځواکونه د ۲۰۱۱ کال څخه د ناکافي ژمنې کالو سره فعالیت کوي چې کولای اغیزمنتیا کمه کړي او فعالیت کچه ټیټه کړي. دا کمښتونه وروسته له هغه پیدا شول چې A-CSTC د یونیفورمونو فرمایش ورکولو مسوولیت د دفاع او داخلي وزارتونو انتقال کړل. په ۲۰۱۳ کال کې A-CSTC وزارتونو ته د هغو خریدارینو لپاره پیسې ورنکړې کوم چې د قانون سره برابر نه وو.
U.S. . له هغه وخته راهیسې، وزارتونو نوي قراردادونه د زمنې کالو د اخیستلو لپاره ندي ورکړي. [۳۳]د کانګرس او امریکایی پالیسي جوړونکو لپاره ممکنې پوښتنې دا دي:

- ایا A-CSTC د دفاع او داخلي وزاتونو بودیجوي مرستو د کارول د اړتیا په اندازه څاري که نه، په ځانګړي ډول د داسې پرګرامونو د مدیریت په اړه د خپلو تاریخي ستونزو په رڼا کې؟
- آیا د دفاع او داخلي وزاتونه د بودیجوي مرسته د لاسته راوړلو لپاره د اړتیا وړ شرطونه پوره کوي؟ آیا هغه شرطونه کافي دي یا - نوروغښتلي - شرطونو ته اړتیا شته؟ آیا په ربښتیا سره هغه شرطونه په نظر کې نیسي او د دفاع او داخلي وزارتونو څخه حساب غواړي؟

---

[۳۱]سیګار افغان ملي اردو: د وسایط، جنریتورونو او برق دستګاه لپاره د تیلو د کنترول غښتلي کولو ته اړتیا شته تر څو ضایع کیدل، درغلي او غلطي استفادې څخه مخنیوی وشي. د تفتیش راپور 13-AR-4، ۲۰۱۳/۱،

[۳۲]د سیګار تحقیقي راپور ۱۳-۱.

[۳۳]د سیګار د خبرداري مکتوب ۱۵-۸۶-AL.

جنرال کمبل په خپل بیان کې وویلي اړتیا شته چې د ANDSF مجاز سطحه به ۳۵۲۰۰۰ کې تر ۲۰۲۰ کاله پورې پاتې شي. د داسې یو ځواک تقریبي لګښت په یو کال کې ۴.۵ میلیارد ډالر دي. . ځرنګه چې جنرال کمبل اشاره وکړه، افغانستان په هیڅ وجه د داسې یو ځواک د لګښت ورکولو ته لا نږدې هم ندی. د دفاع وزارت په وینا، په داسې حال کې چې افغان دولت په خپل امنیتي بودیجه کې خپل سهم زیات کړی، خو افغان دولت حتې په دې نه ده توانیدلی چې په کال کې ۵۰۰ میلیون ډالره چې دوی په شیګاګو کې د ناټو په ۲۰۱۲ کال مجلس موافقه کړی وو هم ورکړي. په دې برسیره، د افغانستان اقتصاد د دې تمه نلري چې په راتلونکي پنځه کلونو کې په کافي اندازه وده وکړي ترڅو د اوس په مقایسه د ANDSF لګښتونو یوه لویه برخه پوره کړي. متحده ایالات او متحدین به سږاوړي به په وارسا کې مجلس کوی تر څو په دې بحث وکړي چې د ANDSF د لګښتونو تمویل څنګه په ګډه ورکړي. .

خو سږ کال، متحده ایالتونو ۱.۴ میلیارد ډالر ورکړل او حتی د دې غټې پیمانې د ورکولو سره هم، د سیګار کار دا ښکاروي چې ANDSFد دې توانایي نلري چې د راتلونکي ډیرو کلونو کې په خپله ځان وساتي.

د بیلګې په ډول افغان مسلح ځواکونو د ډیرو کلونو لپاره په جنګ کې د امریکایی هوایی ملاتړ باندې تکیه وکړل. په ۲۰۱۶ کال کې، افغانان تر اوسه د اړتیا وړ هوایي شتمنیو د نشتوالي سره مخ دي تر خپل ځواکونو ته ملاتړ ورکړي. د مجهز او توانمند افغان هوایی ځواک د نشتوالي تاثیر د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په ۲۸ مه په سم ډول څرګند شو کله چې د کندز ښار د طالبانو لاس ته ورغی . برسیره په دې چې د امریکا جنګي عملیاتونه ختم شول او په داسې یو ماموریت بدل شو چې روزنه، مرسته و سلا ورکولو باندې تمرکز کوي، د امریکایی ځواکونو څخه یوځل بیا غوښتنه وشوه چې افغاني ځواکونو ته هوایي ملاتړ ورکړي. [۳۴]

امریکا او افغانستان له ډیره وخته راهیسې د هوایي قوت د جوړولو په اهمیت پوی دي. خو، د دې باوجود چې دا خبره د وړتیا د یومهم ضعف په حیث په ګوته شوې وه، افغان هوایي ځواک - په خپله ځان ته دوام ورکولو خبره څه - چې د پوره وړتیا څخه هم ډیر لرې دی .

د دې وړتیایي ضعف د لمنځه وړلو لپاره د دفاع وزارت یو پلان دا وو چې۲۰ سوپر توکانو ای-۲۹ الوتکې ورکړي. توکانو د هوایي کشف یوه الوتکه ده چې کیدای شي د ځمکني ځواکونو د ملاتړ لپاره په ولسو مجهز شي. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې د دغو ای۲۹ الوتکو د جوړولو لپاره لاسلیک شو، یوه حقوقی ستونزه د یوې بلې کمپنی لخوا د دې باعث وګرځید چې ګټونکی قراردادي ونشوالی کولای چې د ۲۰۱۳ کال د اپریل په میاشت کې الوتکې تسلیمې کړي.[۳۵] د دې لپاره، لومړي ځلور ای۲۹ الوتکې د ۲۰۱۶ جنوري ۱۵پورې افغانستان ته تسلیمې نشوې چې دا د امریکایي ځواکونو کمیدلو څخه یو کال وروسته ده.[۳۶] د سږ کال لپاره ځلور اخیرې الوتکې به د مې میاشتې پورې افغانستان ته وسپارل شي. خو ځرنګه چې جنرال کمپبل په نږدې وختونو کې یې وویلي، دا به دري کاله ونیسي تر څو افغان هوایي ځواک تجهیز شي او وړتیا پیدا کړي تر څو ځواکونو ته هوایي ملاتړ ورکړي. د دا هم ویلې چې تقریباً دري کاله اخلي تر څو یو پیلوت وروزل شي. [۳۷]

---

[۳۴] *واشنګټن پوست* , "اوباما له مرستندویه اداري څخه په یو افغان کلینک باندې د امریکایي برید په اړه بښنه غواړي," ۲۰۱۵/۱۰/۸.

[۳۵] بیچ کرافت ډفینس په مقابل دمتحده ایالاتونه او سیرا نیوادا کارپوریشن (د متحده ایالتو فدرال محکمه ۲۰۱۳).

[۳۶] یونایډ پریس انټرنشنل, "افغانستان سوپر توکانو الوتکې ترلاسه کوي," ۲۰۱۶/۱۹/۱

[۳۷] د کانګرس متنونه, د سنا د مسلح خدمتونو کمیټه د افغانستان په حالاتو مجلس دایر کوي ۲۰۱۶/۴/۲.

یوه مثبته خبره، زه پوهیږم چې په افغانستان کې ۱۴ ایم ډي ۵۳۰ چورلکې همدا اوس په ټول وطن کې د جنګ لپاره کارول کیږي او د افغان هوایي ځواک د ظرفیت د لوړوالي لپاره ډیره امیدواري رامنځ ته کړی. [۳۸]

همدارنګه سیګار د افغان هوایی ځواک په وده ورکول کې چې خورا مهمه ده د ضایع شوي فرصتونو بیلګې یې موندلې دي. په دغو کې یو د دفاع وزارت لخواه د افغان هوایي ځواک لپاره د ۲۰ جي۲۲۲ باربري الوتکو اخیستل ده. د ضعیف پلان ، ضعیفه څارنه، د قرارداد ضعیف مدیریت (چې ممکن درغلي په کې شامل دی) او د الوتکې د وړتیاوو په اړه غلط فهمي په پایله کې، هغه الوتکې حتی د افغانستان په حالاتو کې عملیاتي اړتیاوې یې هم نشوای پوره کولای. د ۲۰۱۳ کال د مارچ په میاشت کې دغه پرګرام د پروزو د نه شتون په په شمول د جدي او دوامداره ستونزو سره د مخامخ کیدلو په نتیجه کې پای ته ورسید. د دغو ۲۰ الوتکو څخه شپاړس یې د زړو وسپنو په ډول یو پاو په شپږ سینټو یا ۳۲۰۰۰ ډالرو په بیه خرڅ شول او سیګار د دې موضوع د څیړلو په حال کې دی.

ممکنې پوښتنې د کانګرس او د امریکا د پالیسي جوړونوکو لپاره دا دي :

- آیا متحده ایالتونه داسې قدمونه پورته کوي چې اطمینان ترلاسه کړي چې افغان مسلح ځواکونه خپل اړتیاوې پوره کړي؟
- که چیرې متحده ایالتونه مني چې د راتلونکي څلورو کلونو لپاره ۴ میلیارد ډالر په کال کې د افغان مسلح ځواکونو د ملاتړ لپاره ورکړي، آیامور د توان په اندازه د دغو مالی مرسته د څارلو لپاره اجراات کوو یا نه؟

پایله

د افغانستان بیاجوړولو لپاره د امریکا په هڅو کې امنیت تر ټولو مهم دی. د سم امنیت څخه پرته، زمور د ۱۱۳ میلیاردو ډالرو د بیا جوړونې پانګه - او د هغو امریکایي، افغان او د ملګرو هیوادونو سرتیرو د ژوند بی حسابه پانګه چې له منځه ولاړ - به په بد خطر کې وي.

دغهه پنځه ستونزې چې د څارنې محدود لید، د ځواکونو د پوښتنې وړ قوت، د وړتیا نامعتبره ارزونې، د بودیجوي مرستو محدود ظرفیت او افغان ځواکونو نامالومه اوږد مهاله تداوم دي د سیګار د پلټنې کار په پایله کې په نښه شوي او د افغان مسلح ځواکونو وړتیا او اغیزمنتیا د پوښتنې لاندې راوړي - همدا مهال او په راتلونکي کې او زمور د هغه هلیځلو په هکله اندیښنې رامنځ چې دوی ته وسایل او منابع ورکړو چې د ځان نه د دفاع لپاره ورته اړ دي.

د امریکا نظامی مشران له ډیره وخته راهیسې ویلي چې که چیرې د افغان مسلح ځواکونو کامیابي غواړو نو دوی به په راتلونکي کې ډیرې مرستې ته اړتیا ولري. په داسې حال کې چې د اوسني پلان په مطابق چې په ۲۰۱۶ کې د امریکایي ځواکونه قوت کمول په دوام وکړي، امریکا او ملګري هیوادونه افغان مسلح ځواکونو ته د دوامداره مالي مرستو وعده ورکړي، افغان مسلح ځواکونه به په زیاتیدونکي ډول بې له توانایي پاتې شي چې په امریکایي او ایتلافي قطعاتو د مرستې لپاره غږ وکړي.

---

[۳۸] د کانګرس متنونه, د عسکري خدماتو کمیټه د افغانستان حالاتو په اړه یې مجلس دایر کړی, 2016/2/2.

[۳۹] سیګار, د جي۲۲۲ الوتکې د ختمولو په هکله استعلام, ځانګړې پروژه SP, 10/3/2014-02-15.

د دې علاوه، د امریکایی او ایتلافي ځواکونو د غښتلي ځارنې اومشورې مرستې څخه پرته، دا په زیاتیدونکي ډول غیر احتمالي شکاري چې دوی به د یو غښتلي پایداره ځواک په بڼه وده وکړي.

سیګار موندلي چې د ANDSF د قطعاتو وړتیا د امریکا او ایتلاف د مرستې پرته بیرته په شا ځي. په ۲۰۱۰ کال کې په دې هکله د سیګار په لومړني ځارنیز راپورونو کې په دې هکله رڼا واچول شو. او ځرنګه چې په هلمند کې د امریکایی ځواکونو د بیرته لیږدولو څخه ښکاره دی، کیدای شي همدا اوس د افغان اردو ۲۱۵ قول اردو همدا اوس ورسره مخ وي. په داسې حال کې چې د ANDSF د بقا لپاره دا مالي مرستو دوام حیاتي بڼه لري، دوی کلک ځارنې ته ، نه یواځې د سر پلټونکی لخوا، بلکه د عسکری پرسونل لخوا هم ، اړتیا لري. د دې لپاره چې دا د امریکا په اردو پورې اړه لري چې دوی سره مرسته وکړي تر څو، د جنرال جوزیف دنفرد په وینا "د یو مدرن ملي پوځ او پولیس ځواک د ملاتړ لپاره سیستمونه، مراحل او د اړتیا وړ اداراتو ته وده ورکړي.

د سر پلټونکي په حیث، زما وظیفه ده چې کانګرس او اداري ته خپل سوچه ارزونه په دې هکله ورکړم چې مورږ د خپل بیاجوړولو موخو د ترلاسه کولو لپاره څه ډول پرمختګ کوو. د دې باوجود چې ANDSF په اول کال کې یې په ډیر زړورتیا جنګ کړی، د مورږ مالوماتونه ښکاروی چې افغان ځواکونه له بحران سره مخ دي ځکه چې دوي د دې وړتیا نشته تر څو په خپله مخالف جنګیالي په موثر ډول لرې وساتي. د سیګار کار ډیر کم دا ښکاروي چې د ANDSF وړتیا او اغیزمنتیا به د امریکا او ایتلاف د مرستو څخه پرته زیات شي. ځرنګه چې سیګار کارونه ښکاروي، لږ ځارنه یعني لږ احتمال بریا ته د رسیدلو لپاره.

له دې څخه چې نن ما ته مو وخت راکړوخپل شهادت ورکړم منننه. زه سترګې په لار یم چې ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ووایم.

---

۴۰ *نیویارک ټایمز*, "جنران وایي چې ۲۰۰۰۰ عسکر باید په افغانستان کې پاتې شي.," 2013/05/3; *نیویارک ټایمز* , "ناټو غواړي چې د جنګ رول ختمیدلو څخه وروسته افغانستان ته مرسته ورکړي," 2013/22/2; *RS خبري آژانس*, "د عسکرو ورکوونکي ملګونه," 2015/12; A-USFOR, د سیګار د مالوماتو غوښتنې ته ځواب, 2015/4/12.

۴۱ سیګار، کارونو ته اړتیا شته تر څو د افغاني ځواکونو د ارزوني اعتبار بهتره شي،د تفتیش راپور 10-11- 6/29/2010 ,AR; د افغانستان په فساد اخته عسکري مشران په هلمند کې د جنګ خنډ ګرځي "*Military.com*," 2016/20/01; " ,DODدنفرد وایي, د افغانستان د پرختګ د بقا لپاره کار لا پاتې دی" 2014/13/3.